# خوندي اړیکې

## مهم ټکي

- یوه خوندي اړیکه پرانیستي او خوندي ارتباط لري.
- رضایت د کوم څه کولو موافقت یا تړون دی.
- که چیرې تاسي کوم داسي څوک لرئ چي تاوتریخوالی کوي یا تاسي ویروي نو کوم داسي څوک چي تاسي ورباندې باور لرئ هغه ته یي ووایی یا پولیسو ته یي ووایی.

### خوندي اړیکه څه شی دی؟

یوه خوندي اړیکه پرانیستي او خوندي ارتباط لري. پدې کي فزیکي او رواني ناوړه چلند نه وي. په غیرخوندي اړیکه کې، کوم څوک تاسي ته د ویرې احساس درکوي او د کوم څه کولو ته مو اړباسي یا په زور یي درباندې کوي.

### رضایت

رضایت د کوم څه کولو موافقت یا تړون دی. تاسي د رضایت ورکولو لپاره باید د فشار احساس ونکړئ. تاسي هرکله کولی شئ خپل رضایت بیرته واخلئ. دا خوندي ندي چي کوم څوک تاسي د کوم څه کولو لپاره اړ باسي وروسته لدې چي تاسي "نه" ویلي یي یا مو نشو کولی چي "نه" ووایی. ځیني غیرخوندي کړني او اعمال جبري او په زور جنسي اړیکه او نا غوښتلی لمس کول یا ښکلول دي.

### فزیکي او رواني خوندیتوب

تاسي له فزیکي پلوه خوندي یي کله چي تاسي دا ویره ونلرئ چي لمس کول به پاریدلي یا ناغوښتلي نه وي. تاسي له فزیکي پلوه خوندي نه یي که چیرې یو شخص تاسي وهي، په څپیره وهي، په سوک وهي، په لغته وهي، تاسي د ویښتانو نه کش کوي، تاسي ټیله کوي، تاسي چیچي، تاسي ستوني نه نیسي، یا په تاسي وسله کاروي.

ستاسي ذهن خوندي دی که چیرې تاسي د لفظي یا احساسي ناوړه چلند نه خلاص یي. ناوړه چلند دا کیدی شي چي کله یو شخص کوم څه وایی یا کوم څه کوي چي له امله یي تاسي د ویرې احساس کوئ یا د خپل ځان په اړه ناوړه احساس کوئ. تاسي خوندي نه یي که چیرې کوم شخص تاسي ځوروي، په تاسي چیغې وهي، او تاسي نوموي. د ناوړه چلند ځیني ډولونه دا کیدی شي چي کوم څوک تاسي ته وایی چي تاسي دا کولی شئ یا دا نشئ کولی، یا کوم څوک تاسي یا خپلو ځانونو ته د زیان رسولو ګواښ کوي.

## په مکرر ډول پوښتل کیدونکې پوښتنې:

### آیا زه باید پولیسو ته تلیفون وکړم؟

هو. کورنی تاوتریخوالی جرم دی. پولیس کولی شي تاسي او ستاسي ماشومان ستاسي کورنی یا د ملګرو کور یا د ښځو د شیلټر په څیر یوه خوندي ځای ته ویسي. که پولیس افسر ستاسي په ژبه نه غږیږي، نو کوم داسي څوک د ژباړې لپاره پیدا کړي چي ستاسي ماشوم، میره یا هلک ملګری نه یي. تل د پولیس افسر نه وغواړئ چي د "پیښې راپور" ډک کړي، کوم چي هغه څه شرح کوي څه چي پیښ شوي وي.

### آیا زه د خوندیتوب او محافظت امر ترلاسه کولی شم حتی که زه د متحده آیالاتو تبعه نه اوسم؟

هو. د خوندیتوب امر ترلاسه کولو لپاره تاسي اړ نه یي چي تبعه اوسئ یا قانوني دایمي اوسیدونکی اوسئ.
تاسي کولی شئ د محکمو خونو، د ښځو شیلټر، د حقوقي خدماتو دفترونو، او د پولیسو ځیني ماموریتونو کي غوښتنلیک ترلاسه کړئ.

### زما میره ګواښ کوي چي که زه هغه پریږدم نو هغه به زما ماشومان زما نه لیرې کړي. زه څه کولی شم؟

که ستاسي میره یا هلک ملګری ګواښ کوي چي تاسي نه ستاسي ماشومان لیرې کوي یا یي خپل هیواد ته وړي، نو د دې لاندې اقداماتو په کارولو سره مرسته ترلاسه کړئ:

1. د "واک امر" ترلاسه کړئ. دا امر کولی شي ستاسي د میره یا هلک ملګري مخه ونیسي چي ماشومان د متحده آیالاتو نه ویسي.
2. د واک امر یوه کاپي د متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزارت ته ولیږئ چي د ماشومانو لپاره د هغه د ویزې یا پاسپورټ اخیستلو مخه ونیسي. یوه کاپي یي په متحده ایالاتو کي د خپل میره یا هلک ملګري د هیواد سفارت ته ولیږئ.

These materials have been approved by the Minnesota Center of Excellence in Newcomer Health.
Thank you to the Colorado Department of Human Services for donating this material for adaptation and translation.

CENTER OF EXCELLENCE IN NEWCOMER HEALTH MINNESOTA

3. د امر یوه کاپي د ماشومانو ښوونځیو ته ورکړئ. د ښوونځي کارمندانو ته ووایی چې ماشومان ستاسې پرته کوم بل چا ته ورنکړي.

که زه د دې اقداماتو نه کوم یو وکړم نو آیا زه به و ایستل شم؟

نه. که تاسې د کورني تاوتریخوالي لپاره د کوم چا راپور ورکړئ تاسې نشئ ډیپورټ کیدی یا نشئ ایستل کیدی.

These materials have been approved by the Minnesota Center of Excellence in Newcomer Health.
Thank you to the Colorado Department of Human Services for donating this material for adaptation and translation.